# The Bank بانک

میاشتنۍ | Monthly | ماهنامه

۲۲۴ گڼه - ۱۴۴۷ رمضان المبارک- ۱۴۰۴ کب




# څنګه کولای شو

## د مالي اندېښنو او اقتصادي فشارونو پر وړاندې مقاومت وکړو

۵ مخ

## ګرانو هېوادوالو!

که چېرې مالي مؤسسو ته د مراجعې پر مهال له کومې ستونزې سره مخ کيږئ، يا له تاسې سره نامناسب چلند کيږي او يا هم ستاسې حقونه د اصولو پر بنسټ نه درکول کيږي، نو کولای شئ چې خپل شکايت مو د customer.protection@dab.gov.af برېښناليک، د ۰۲۰۲۵۱۱۷۲۶ تيليفون شمېرې او يا د ۹۳۷۹۸۷۰۳۷۵۵+ وټس اپ شمېرې له لارې د افغانستان بانک د مالي پېرېدونکو له برخې سره ثبت کړئ. موږ به ژر تر ژره ستاسو شکايتونو ته رسېدنه وکړو.

---

## هموطنان عزیز!

در صورتیکه حین مراجعه به یکی از مؤسسات مالی به کدام مشکل مواجه می شوید ویا با شما برخورد نامناسب صورت می گیرد ویا هم حقوق شما به اساس اصول پرداخت نمیگردد، شما می توانید شکایت خویش را از طریق ایمیل آدرس customer.protection@dab.gov.af، شماره تیلیفون ۰۲۰۲۵۱۱۷۲۶ ویا شماره وتس اپ ۹۳۷۹۸۷۰۳۷۵۵+ با بخش حقوق مشتریان مالی د افغانستان بانک ثبت نمایید. ما به شکایت شما به اسرع وقت رسیدگی می نماییم.



**د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک**

**کتنپلاوی: فدا محمد فیضان، احمد جواد سداد او محمد ادریس رونق**

**سرلیکوال: شفیق الله بارز**

د افغانستان بانک لومړي مرستیال د یوناما له مرستیال او د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام له مشر سره وکتل ۱

آیا جهان در آستانه بحران جهانی دالر امریکای قرار دارد؟ ۲

خنګه کولای شو د مالي اندېښنو او اقتصادي فشارونو پر وړاندې مقاومت وکړو ۵

تمویلات مالی اسلامی؛ پیوند اخلاق، سرمایه و توسعه اقتصادی ۱۰

د مالي سکتور بربښنايي کېدل او د افغانستان روښانه راتلونکې ۱۲

د بریالیو تجربو شریکول او د ډیجیټلي اوبو د حل لارو پراخول ۱۴

اقتصادي خبرونه ۱۷

پرداخت سریع و هویت دیجیتل: تجربه‌ای امن، ساده و مؤثر برای معاملات روزمره ۱۹

د ۱۴۰۴ لمریز کال انځور د ثبات، پولي انضباط او بنسټیزو پرمختګونو کال ۲۳

Mobile Money in Afghanistan: Opportunities, Challenges, and the Path to Financial Inclusion ۳۱

**مسئول مدیر: انور الله حیات**

**خبریالان: سید خالد خالقیار او عبدالقیوم عالم**

**ډیزاین: خالد احمد فیضي**

**فوتوژورنالیست: زیرک ملیا**

**د وېش مسئول: نصرت الله احمدزی**

د چاپ شمېر: ۱۲۰۰ ټوکه

کال: نولسم

پته: د افغانستان بانک

د ثبت ګڼه: ۶۵۸

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

۲۲۴

د مجلې د مقالو او انځورونو کارول د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

# د افغانستان بانک لومړي مرستيال د يوناما له مرستيال او د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام له مشر سره وکتل

د ۱۴۴۷ کال د رمضان المبارک ۲۰ مه - د افغانستان بانک لومړي مرستیال، ښاغلي صدیق الله خالد، د ملگرو ملتونو د مرستندوی پلاوي (یوناما) له مرستیال اندریکا راتوات او د ملگرو ملتونو د پراختیایي پروگرام له مشر- سټیفن رودریگز او مل پلاوي سره وکتل.

په دې لیدنه کې د بانکي او مالي سکتور د ظرفیت لوړوني لپاره د یوه ګډ کاري چوکاټ ( پلټفارم) د جوړښت، اهمیت او د عملي کېدو د څرنګوالي په اړه مفصل بحث وشو.

په دې غونډه کې څرګنده شوه چې یاد پلټفارم به د افغانستان بانک په همغږۍ د بانکي او مالي سکتور د ظرفیت لوړوني لپاره د یوه ګډ کاري چوکاټ په توګه عمل وکړي. د دې له لارې به د ظرفیت لوړوني او روزنیزو پروګرامونو، درسي مواد او د روزونکو ټاکنه په منظم او همغږي ډول تنظیم او عملي کېږي.

همدارنګه به د دې ګډ کاري چوکاټ له لارې د نړیوالو او کورنیو بنسټونو تخنیکي مرستې او فعالیتونه تر یوه واحد چتر لاندې راټولې شي، ترڅو د ظرفیت لوړوني په برخه کې همغږي رامنځته شي، د تکراري فعالیتونو مخه ونیول شي او مرستې به په اغېزناکه توګه وکارول شي.

په ناسته کې دا یادونه هم وشوه چې دغه ګډ کاري چوکاټ به د بانکي او مالي سکتور د ظرفیت لوړونې لپاره د مالي تمویل د جلبولو زمینه هم برابره کړي، ترڅو نړیوال بنسټونه وکولای شي د همدې چوکاټ له لارې د روزنیزو پروګرامونو، تخصصي- ورکشاپونو او مسلکي پرمختیایي فعالیتونو ملاتړ وکړي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمر ښاغلي فدا محمد فیضان او د یو شمېر اړوندو آمریتونو آمرینو او مرستیالانو هم ګډون کړی و.

# آیا جهان در آستانه بحران جهانی دالر امریکای قرار دارد؟

**مقدمه**

دالر امریکا نزدیک به یک قرن ستون اصلی نظام مالی جهان بوده است. این ارز در تجارت جهانی، ذخایر ارزی بانک‌های مرکزی، بانکداری فرامرزی، انتشار بدهی و تأمین نقدینگی در زمان بحران‌ها نقش برازنده دارد. با این حال، در این اواخر هشدارها درباره بحران دالر امریکا شدت گرفته است. افزایش بدهی امریکا، کسرهای مالی مداوم، تنش-های جیوپولیتیکی، تحریم‌ها و سرعت گرفتن تلاش‌های دالرزدایی باعث شده‌اند این نگرانی تقویت شود که نقش جهانی دالر امریکا ممکن است به نقطه بحرانی نزدیک شده باشد.

اما پرسش اساسی این نیست که آیا دالر امریکا با چالش روبه‌رو است یا نه؛ بلکه این است که آیا جهان در آستانه یک بحران جهانی فوری دالر امریکا قرار دارد؟ شواهد کنونی نشان می‌دهد که پاسخ منفی است. آنچه در حال رخ دادن است، یک بازتنظیم تدریجی و ساختاری در نظام پولی بین‌المللی است.

**نشانه‌های هشدار دهنده‌ای نگرانی از بحران**

**1) افزایش بدهی امریکا و فشارهای مالی**

در اواخر نوامبر ۲۰۲۵، بدهی عمومی ایالات متحده از مرز ۳۸ تریلیون دالر عبور کرد که رقم بی‌سابقه به‌شمار می‌رود. کسر بودجه مداوم و افزایش هزینه‌های بهره، نگرانی‌ها درباره پایداری مالی درازمدت را تشدید کرده است. بررسی‌های منفی نهادهای رتبه‌بندی اعتباری، از جمله کاهش رتبه بدهی دولت امریکا توسط مؤسسه مودیز، این نگرانی‌ها را تقویت کرده



است.

هرچند امریکا هنوز توانایی استثنایی برای قرض‌گیری دارد، اما اقتصاددانانی مانند «کنت راگوف» هشدار می‌دهند که سلطه دالر امریکا بر نظام مالی جهانی که از دهه‌ها پیش برقرار بوده، اکنون در حال ضعیف شدن است.

**۲) کاهش سهم دالر امریکا در ذخایر جهانی**

سهم دالر امریکا از ذخایر رسمی ارزی جهان در سال ۲۰۲۴ حدود ۵۸ درصد بود؛ در حالی که این رقم در اوایل دهه ۲۰۰۰ بیش از ۷۰ درصد بود. این کاهش اغلب به‌عنوان نشانه‌ای از دالرزدایی مطرح می‌شود.

با این حال، داده‌ها نشان می‌دهد که سهم دالر از سال ۲۰۲۲ تاکنون تقریباً ثابت مانده است. بانک‌های مرکزی به‌جای کنار گذاشتن دالر، پیش از پیش به سمت متنوع‌سازی دارایی‌های خود حرکت کرده‌اند. ارزهای کوچک‌تر و طلا به ذخایر افزوده شده‌اند، اما نه با سرعتی که نشان‌دهنده هراس یا رد سیستماتیک دالر باشد.

**۳) دالرزدایی و تنش های جیوپولیتیکی**

تحریم‌های گسترده امریکا و متحدانش علیه روسیه پس از جنگ اوکراین، بحث ابزاری شدن دالر امریکا را تشدید کرد. در واکنش، کشورهایی مانند روسیه، چین، ایران و برخی اعضای بریکس استفاده از ارزهای محلی در تجارت دو یا چند جانبه را گسترش داده، سهم دالر امریکا را کاهش داده و سیستم‌های پرداخت جایگزین ایجاد کرده‌اند.

با وجود این، هیچ اقتصاد بزرگ و تأثیرگذاری به‌طور کامل از نظام دالری خارج نشده است. حتی کشورهایی که به دالرزدایی روی آورده‌اند، هنوز برای نقدینگی، تأمین مالی تجارت و ذخایر ارزی به دالر وابسته اند.

## دلایل نامحتمل بودن بحران دالر امریکا در کوتاه مدت

**1) عمق و نقدشوندگی بی‌رقیب بازارهای امریکا**

بازارهای مالی امریکا، به‌ویژه بازار اوراق خزانه‌داری، عمیق‌ترین و نقدشونده‌ترین بازارهای جهان هستند. تا اوایل ۲۰۲۵، سرمایه‌گذاران خارجی حدود ۹ تریلیون دالر اوراق خزانه امریکا را در اختیار داشتند. هرچند سهم خارجی‌ها نسبت به سال ۲۰۱۴ کاهش یافته، اما هنوز هم در مقایسه با سایر اقتصادهای بزرگ، میزان مالکیت خارجی اوراق خزانه امریکا بالا و قابل توجه است.

**۲) تداوم تقاضای جهانی برای دالر امریکا**

دالر امریکا تقریباً در همه ابعاد مالی بین‌المللی ارز غالب باقی مانده است. بخش عمده تجارت جهانی خارج از اروپا با دالر محاسبه می‌شود. حدود ۸۸ درصد معاملات بازار ارز شامل دالر است. نزدیک به ۵۵ درصد مطالبات و ۶۰ درصد بدهی‌های فرامرزی بانکی به دالر انجام می‌گیرد. همچنان حدود ۶۰ درصد بدهی‌های ارزی جهان به دالر منتشر می‌شود. این شاخص‌ها همچنان نشان می‌دهد که جایگاه دالر در نظام مالی جهانی طی دو دهه گذشته عمدتاً باثبات بوده است.

**۳) زیرساخت‌های مدیریت بحران به نفع دالر**

در زمان بحران‌های جهانی، تقاضا برای نقدینگی دالری به‌شدت افزایش می‌یابد. خطوط مبادله فدرال رزرو و تسهیلات بازخرید دسترسی جهانی به دالر را در شرایط بحرانی تضمین می‌کنند. این ابزارها در بحران مالی ۲۰۰۸، شوک کووید-۱۹ و تنش‌های بانکی سال ۲۰۲۳ به‌طور گسترده استفاده شدند. هیچ بانک مرکزی دیگری چنین شبکه جهانی پشتیبانی نقدینگی را فراهم نمی‌کند.

## ۴) ضعف گزینه‌های جایگزین

ارزهای رقیب دالر امریکا با محدودیت‌های ساختاری روبه‌رو هستند. یورو با وجود بازارهای مالی عمیق، همچنان با پراکندگی مالی و ریسک‌های سیاسی مواجه است. یوان چین به دلیل کنترول سرمایه، تبدیل‌پذیری محدود و اعتماد نهادی پایین جذابیت کمی دارد. طلا ذخیره ارزش مناسبی است، اما برای معاملات روزمره کارایی ندارد. رمزارزها نیز پرنوسان‌اند و تا حد زیادی به دالر وابسته‌اند. قابل توجه است که حدود ۹۹ درصد ارزش بازار سکه-های پایدار به دالر امریکا وابسته است و این موضوع به تقویت جایگاه دالر، نه تضعیف آن، منجر می‌شود.

## آنچه واقعاً در حال رخ دادن است: بازتنظیم تدریجی

به‌جای یک فروپاشی ناگهانی، نظام پولی جهان به‌تدریج به سوی ساختاری چندقطبی‌تر در حال حرکت است. بانک‌های مرکزی به‌جای حذف دالر، تمرکز خود را بر متنوع‌سازی ذخایرشان افزایش داده‌اند. در تجارت دوجانبه استفاده از ارزهای محلی افزایش یافته، اما تجارت جهانی همچنان عمدتاً بر پایه دالر انجام می‌شود. ذخایر طلا افزایش یافته است، اما این رشد بیش از آن‌که نتیجه خرید گسترده باشد، ناشی از افزایش قیمت طلا است. نقش بین‌المللی یوان چین نیز گسترش یافته، ولی در مقیاس جهانی هنوز محدود باقی مانده است. حتی تحلیل‌های فدرال رزرو نشان می‌دهد که شاخص استفاده بین‌المللی از دالر از سال ۲۰۱۰ تاکنون باثبات بوده و همچنان به‌مراتب فراتر از سهم ایالات متحده در تولید ناخالص داخلی و تجارت جهانی قرار دارد.

## چشم‌انداز بازار: نوسان، نه فروپاشی

پیش‌بینی‌های بازار نیز همین برداشت را تأیید می‌کنند. مؤسسه مورگان استنلی انتظار دارد دالر امریکا تا اواسط ۲۰۲۶ تضعیف شود و سپس در نیمه دوم سال دوباره تقویت گردد؛ روندی که بیشتر ماهیت بحرانی نه، بلکه چرخه‌ای دارد. ارزیابی کنت راگوف نیز هم‌سو است: دالر احتمالاً «چند پله پایین‌تر می‌آید»، اما همچنان مهم‌ترین ارز جهان باقی می‌ماند، هرچند دیگر به اندازه گذشته منحصربه‌فرد نباشد.

## نتیجه‌گیری

جهان در حال حاضر با یک بحران جهانی فوریِ دالر امریکا روبه‌رو نیست. با وجود فشارهای مالی، تنش‌های جیوپولیتیکی و روند دالرزدایی، جایگاه دالر همچنان عمیقاً در ساختار مالی جهان ریشه دارد.

آنچه در پیش است، نه فروپاشی ناگهانی، بلکه کاهش تدریجی انحصار و حرکت به‌سوی یک نظام متنوع‌تر است. دالر ممکن است به‌تدریج بخشی از سهم خود را از دست بدهد، اما در نبود یک شوک بزرگ یا خطای جدی سیاست‌گذاری ستون اصلی مالی جهان باقی خواهد ماند. به بیان ساده-تر، دوران برتری مطلق دالر شاید به بلوغ رسیده باشد، اما پایان آن نزدیک نیست.

**ترتیب کننده: محمد شعیب رشیدی**

**محقق ارشد اقتصادی**

**آمریت عمومی سیاست پولی**

فهرست منابع:

1. The Fed - De-Dollarization? Diversification? Exploring Central Bank Gold Purchases and the Dollar's Role in International Reserves
2. Is a US Dollar Collapse Likely in 2025? Latest Warning Signs | EBC Financial Group
3. What Countries Dropped the US Dollar? Full List & Reasons | EBC Financial Group
4. U.S. Dollar Depreciation Could Deepen Through First Half | Morgan Stanley

# څنګه کولای شو د مالي اندېښنو او اقتصادي فشارونو پر وړاندې مقاومت وکړو

که چېرې له داسې یو وضعیت سره مخ شئ چې تازه مو دنده له لاسه ورکړې وي، له تاسو سره د ګوتو په شمېر یوازې لږې پیسې پاتې وي او د کورنۍ یو زړه ته نږدې غړی مو د شپې ناوخته یو ناڅاپه سخت ناروغ شي، تاسو یې د درملو او د روغتون د لګښتونو د پرېکولو مالي توان ونلرئ، او له بلې خوا مو پورونه هم نه وي تادیه کړي نو هغه مهال به ستاسو ذهن د څه ډول حالت سره لاس و ګرېوان وي؟ ښایي تاسو د اندېښنو له یو طوفان سره مخ شئ او بېلابېلې پوښتنې مو فکر در خراب کړي چې څنګه به د خپلې کورنۍ ګران او زړه ته نږدې غړي درملنه کوئ، د کور کرایه به څنګه کیږي؟ د خوراکي او نورو توکو خرڅ به څنګه پوره کیږي. له دې پوښتنو سره مو ښایي د راتلونکي په اړه انځور لا پسې تیاره شي. دغه حالت نه یوازې دا چې ستاسو پر ذهن اغېز کوي بلکې د بدن پر بېلابېلو برخو کې مو هم منفي بدلونونه رامنځته کوي. د بېلګې په توګه ستاسو بدن په لوړه کچه د فشار هورمونونه لکه **کورتیسول** او **ادرینالین** تولیدوي چې په پایله کې ښایي د زړه تېزې دررزا، د وینې لوړ فشار، د خوب ګډوډی او سټریا سره مخ شئ. دا حالت د مالي اندېښنې هغه بېلګه ده چې نه یوازې د پیسو نشتون په ګوته کوي، بلکې د ستاسو پر ذهن، بدن، او د کورنۍ پر ثبات مو د ژورې وېرې او فشار اغېزې هم څرګندوي.

پیسې د انسان د ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو ترڅنګ، د وګړو د امنیت، ثبات، او د ذهن له آرامۍ سره ژور تړاو لري. پیسو ته لاسرسی که یادې ګڼې لري برعکس نشتون یې وګړي له بېلابېلو اندېښنو او تشویشونو سره مخ کوي. څېړنې ښیي چې د یو انسان مالي اندېښنې د هغه پر بدن د جدي ناروغۍ په څېر اغېزې پرېږدي. مالي اندیېښنې د زړه د زړښت بهیر چټک کوي او د زړه د ناروغۍ او لوړ فشار خطر زیاتوي. همداراز، مالي اندېښنه د ژور خفګان، د خوب د ګډوډۍ، او د بدن د معافیت سیستم له کمزورۍ کېدو سره تړاو لري. کله چې د پورونو، حسابونو، یا سپما په اړه اندېښنې په دوامداره توګه زیاتیږي، بدن د کورتیسول په نوم د فشار هورمون لوړې کچې تولیدوي. په اوږد مهال کې، د دوامداره ګواښ دغه حالت بدن سترړی کوي، د خراب خوب، سټریا، او د ناروغۍ د زیاتې کچې سبب ګرځي. څېړونکي د مالي



فشار اغېزې د نورو پېژندل شوو روغتیایي خطرونو لکه سګرټ څکولو یا چاغښت سره پرتله کوي، او ټینګار کوي چې اقتصادي فشار باید د روغتیا د جدي شاخص په توګه وپېژندل شي.

## نړیوالې څېړنې څه وايي؟

نړیوال بنسټونه دا موندنې تائیدوي. د نړیوال بانک څېړنې ښيي چې روغتیایي کړکېچونه ډېر ځله مالي کړکېچونو ته لاره هواروي، او بې وسه کورنۍ د دواړو بارونه پر اوږو وړي. همدارنګه، د پیسو د نړیوال صندوق د مالي فشار نړیوال شاخص ښيي چې د مالي فشار زیاتوالی اقتصادي فعالیت کموي، چې کورنیو ته د دندې د ناامنۍ او د عاید د بې ثباتۍ په بڼه رسېږي. دا نظر دا په ډاګه کوي چې مالي فشار یوازې شخصي ستونزه نه ده، بلکې نړیواله روغتیایي او اقتصادي ننګونه ده. په ۲۰۲۴ کال کې د مصنوعي ځیرکتیا پر مټ د نږدې ۳۰۰،۰۰۰ وګړو د زړه د انځورونو شننې دا په ډاګه کړه چې په هغو کسانو کې چې تر مالي فشار لاندې وو، د هغوی په پرتله چې مالي اندېښنې یې نه درلودې، د دوو کلونو په موده کې د مړینې احتمالي خطر ٦۰ سلنه زیات وو. په ۲۰۱۹ کال کې د امریکا د زړه ټولنې څېړنې وموندله چې دوامداره مالي اندېښنې، په ځانګړې توګه په ټیټ عاید لرونکو وګړو کې د لوړ فشار او د زړه د ناروغۍ په څېر ستونزو لامل کېږي. د رواني روغتیا پایلې هم جدي دي: په ژورنال آف افیکټیو ډیزآرډرز (۲۰۲۱) کې د یوې دوامدارې بیاکتنې پایلو دا په ګوته کړه چې مالي فشار تل په لویه کچه د خفګان او اندېښنې رامنځته کوي. همدا ډول، په ۲۰۲۳ کال کې د جانز هاپکنز پوهنتون یوه څېړنه ترسره کړه چې ۵٦۰،۰۰۰ امریکایي محصلین پکې شامل وو. د دې څېړنې پایلو دا په ډاګه کړه چې په ځانګړې توګه په ښځو او اقلیتونو کې د مالي فشار او د خفګان د نښو، او د ځان وژنې فکرونو تر منځ اړیکه شتون لري.

د اوږدمهاله اغېزو نښې د ژوند په اوږدو کې څرګندېږي. په ۲۰۲۵ کال کې د فرنټییرز ان پبلک هیلت څېړنې ښيي چې په ځوانانو کې مالي فشار مالي امنیت، فزیکي روغتیا، او ټولیزه هوساینه کمزورې کوي. همداراز، دې څېړنې د مالي سواد ارزښت هم په ګوته کړی دی. سربېره پر دې، په ۲۰۲۲ کال کې په آسترالیا کې د پالیټیو میډیسن لخوا د ترسره شوې څېړنې له مخې مالي فشار د ژوند د وروستیو تجربو کیفیت په څرګند ډول کموي. په مجموعي توګه دا موندنې ښيي چې مالي فشار د انسان پر روغتیایي وضعیت د پام وړ اغېزې پرېږدي او مالي هوساینه د ټولیزې هوساینې مهمه برخه ده.

## مالي اندېښنې د منفي مالي پرېکړو لامل کېږي

د مالي اندېښنو په پایله کې د کورتیسول او ادرینالین لوړې کچې د وګړو تمرکز یوازې پر لنډمهاله حل لارو باندې محدود ساتي او د اوږدمهالې پلان جوړونې تشه رامنځته کوي. په پایله کې وګړي کېدای شي بې پروا مالي پرېکړې وکړي. لکه زیات لګښت، د سپما له پامه غورځول، یا سود لرونکو پورونو ته مخه کول. دا چارې د هغوی ستونزې لا پسې ډېروي چې د لازیات مالي فشار سبب ګرځي او نورو ناموثرو مالي پرېکړو ته لاره هواروي.

په دې برخه کې کاري چاپېریال د هغو سیمو څخه دی چې تر ټولو ډېر اغېزمن کېږي. هغه کارکوونکي چې تر مالي فشار لاندې وي، ډېر وخت د تولید د کمښت، غیر حاضریو او خپلو دندو ته د لږ تمرکز له ستونزو سره لاس و ګرېوان وي. شرکتونه او ادارې په زیاتېدونکي ډول دې ستونزې ته د حل لارو په لټون کې دي. د پیسو نړیوال صندوق په دې باور دی چې په ملي کچه مالي اندېښنې کورنیو ته د ناامنۍ احساس ورکوي چې له امله یې د کار بازارونه او تولید اغېزمن کېږي. نو ځکه د مالي هوساینې ملاتړ د افرادو او اقتصادونو لپاره حیاتي ارزښت لري.

## څنګه کولای شو چې پر مالي اندېښنو برلاسي شو؟

**مالي سواد د مالي بارونو او فشار په مدیریت کې حیاتي رول لري، ځکه چې د پیسو په اړه روښانه پوهه د افرادو لپاره د ذهني آرامۍ، ثبات، او د اوږدمهاله هوساینې سرچینه ګرځي** .کله چې وګړي د خپلو عوایدو، لګښتونو، پورونو او سپما په اړه واضح درک ولري، د ناڅاپي پېښو پر وړاندې چمتو وي او د فشار پر ځای د اعتماد احساس کوي. د بودجې جوړول او د لګښتونو څارنه د پیسو د تګ راتګ واقعي انځور وړاندې کوي، چې له مخې یې خلک کولای شي بې ځایه لګښتونه کم کړي او د سپما لپاره ځای پیدا کړي. د سپما منظم عادت، که یوازې د عوایدو ۵٪ هم وي، د بېړني حالتونو لپاره د خوندي زېرمې په جوړولو کې مرسته کوي او د مالي فشار کچه راټیټوي. برعکس، د

مالي سواد نشتون د اندېښنو سرچينه ده، ځکه چې خلک د لوړو پورونو، بې ځايه لګښتونو، او لنډمهاله پرېکړو ښکار کېږي، چې پايله يې د فشار هورمونونو زياتوالی، د خوب ګډوډي، او رواني ستونزې دي. مالي سواد د هوښيارې پرېکړې لاره هواروي، ځکه چې پوهه لرونکي کسان د لنډمهاله بې پروا پرېکړو پر ځای اوږدمهاله پلانونه جوړوي، د سپما لپاره پيسې جلا کوي، او د پورونو د تادیې لپاره واقعي پلانونه جوړوي.

ښه خبر دا دی چې دوامداره کوچني ګامونه کولای شي هم د وګړو مالي او هم روغتيايي اندېښنې کمې کړي.

**عوايد او لګښتونه مو وڅارئ**

بودجه جوړول د مالي سواد يوه مهمه برخه ده چې د وګړو لپاره د مالي اندېښنو او فشار په مديريت کې مهم رول لوبوي. کله چې يو کس د خپلو عوايدو او لګښتونو روښانه جدول جوړ کړي، نو د عوايدو د راتګ او د لګښتونو واقعي انځور ورته روښانه کېږي. دا چاره مرسته کوي چې بې ځايه لګښتونه په ګوته او کم شي، او د سپما لپاره ځای پيدا شي. بودجه د دې سبب کېږي چې وګړي د خپلو لومړنيو اړتياوو لکه خوراک، کرايه، او درملو لپاره پيسې ځانګړې کړي، او پاتې عوايد د سپما يا د پورونو د تاديې لپاره وکاروي. د بودجې جوړول نه يوازې د مالي فشار کچه راټيټوي، بلکې د اوږدمهاله پلان جوړونې لپاره هم زمينه برابروي، ځکه چې خلک پوهېږي څومره پيسې لري او څنګه يې بايد وکاروي. بودجه د مالي نظم، د سپما د عادت، او د ذهني آرامۍ سرچينه ده، چې د ناڅاپي پېښنو پر وړاندې د مقاومت کچه لوړه ساتي او د مالي هوساينې لپاره بنسټيز ارزښت لري.

**شته به دې په کار شي**

مالي کارپوهان ډېری وخت سپارښتنه کوي چې وګړي بايد د خپلو عوايدو له ٪۵ څخه تر ٪۲۰ برخه د سپما لپاره ځانګړې کړي. د عوايدو يوه برخه په منظم ډول جلا کول د انضباط سبب کېږي او د ناڅاپي لګښتونو لپاره د خوندي زېرمې په جوړولو کې مرسته کوي. حتی يوازې ٪۵ عوايد سپما کول هم ډېر مؤثر تمامېدای شي. مهم ټکی يې دوامداره سپما ده. د وخت په تېرېدو سره دا کوچنۍ ونډې په يوه معنا لرونکې زېرمه بدلېږي. د بېړنيو وضعيتونو لپاره د پيسو سپما د مالي هوساينې يو بنسټيز ګام دی.

که څه هم د ډېرو پيسو سپما ستونزمنه ښکاري، خو حتا کوچنۍ مياشتنۍ ونډې په اوږد مهال کې ستر توپير رامنځته کولای شي. که وګړي خپل لګښتونه په داسې ډول کنټرول کړي چې لګښتونه يې له خپلو عوايدو څخه کم شي او له عوايدو څخه هرومرو يو څه نا څه پيسې سپما کړي نو دا چاره به د ناڅاپي پېښنو، ناروغيو او دې ته ورته وضعيتونو اړوندو لګښتونو لپاره د سپر په توګه کار وکړي. دا سپما که د طبي لګښتونو لپاره وکارول شي او که د موټر د ترميم، يا په دنده کې د بدلون په پايله کې ترې ګټه واخيستل شي، په هر وضعيت کې ذهن ته آرامي ورکوي او د مالي ناډاډمنتيا فشار کموي. د نړيوال بانک له مخې، د کورنۍ په کچه مالي مقاومت د کړکېچونو د زغملو لپاره حياتي دی، او بېړنۍ سپما د همدې مقاومت مهمه برخه ده. ښه لاره دا ده چې له درېو څخه تر شپږو مياشتو پورې د بنسټيزو لګښتونو لکه د کرايې، خوړو، او برېښنا د پوښښ لپاره سپما وشي.

**بانکونه: د سپما تر ټولو غوره لار**

د هغو وګړو لپاره چې بانک ته لاسرسی لري، د سپما حساب پرانيستل د يوه بېړني صندوق په څېر دي چې د ضرورت پر وخت ترې ګټه اخيستلای شي او دا د سپما تر ټولو غوره لار ده. نن سبا بانکونه زموږ د باور وړ ملګري دي، او ډېری بانکونه خپلو پېرېدونکو ته د سپما په برخه کې بېلابېل حسابونه وړاندې کوي ترڅو هغوی خپلې پيسې د ځانګړو موخو لپاره تنظيم کړي، او د خپلو عوايدو يوه برخه له ورځنيو لګښتونو څخه جلا وساتي. بانکونه په خوندي ډول زموږ پيسې زېرمه کوي او د غلا، سوځېدو، خرابېدو او د سيلاب او زلزلې په څېر د طبيعي آفتونو له ناوړه اغېزو څخه يې په امان کې ساتي چې هر وخت وغواړو لاسرسی ورته درلودلای شو.

همداراز، په اتومات ډول د پيسو سپما کول هم ډېر مؤثر دي. په ډېری بانکونو او مالي ادارو کې په اتومات ډول د پيسو سپما لپاره وګړي بايد لږ تر لږه دوه حسابونه ولري: يو اصلي يا جاري حساب چې معاش يا عايد ورته راځي، او بل جلا د سپما حساب. د اتومات انتقال لپاره مهالويش له مخکې ټاکل کېږي. د بېلګې په توګه د هرې مياشتې په لومړۍ نېټه ټاکلې اندازه پيسې (لکه د عوايدو ٪۵) له جاري حساب څخه په اتومات ډول د سپما حساب ته انتقال شي. ځينې ادارې د سپما ځانګړي حسابونه وړاندې

کوي چې د یوې مودې لپاره د پیسو ایستل محدودوي ترڅو سپما د ناخاپي لګښتونو پر وړاندې خوندي پاتې شي. دا پروسه د سپما عادت پیاوړی کوي، د ذهني فشار کچه راکموي، او وګړو ته اجازه ورکوي چې پرته له تکراري پرېکړو ورو ورو مالي امنیت رامنځته کړي.

## د موبایل پیسو د خدمتونو له لارې سپما کول

د موبایل پیسو د خدمتونو وړاندې کوونکي د هغو خلکو لپاره چې بانکونو ته لاسرسی نه لري، یو عملي بدیل وړاندې کوي. د یوه ساده موبایل ټیلفون له لارې کاروونکي کولای شي چې پرته له یوه بانکي حساب څخه د ځان لپاره ډیجیټل بټوه پرانیزي. د دې کار لپاره وګړي کولای شي چې د موبایل پیسو د خدمتونو وړاندې کوونکو سیمه ایزو استازو ته نغدې پیسې ورکړي او له دې لارې په خوندي ډول خپلې پیسې د برېښنایي ارزښت په توګه وساتي. دا بټوه د سپما حساب په څېر کار کوي. نغدې پیسې له ورځني لګښت څخه جلا کېږي او په برېښنایي ډول ساتل کېږي. همداراز، د پیسو کارولو پر مهال راکړې ورکړې د شفافیت لپاره ثبتېږي، او پېرېدونکی هر وخت کولای شي چې د خپلو پیسو بیلانس معلوم کړي یا پیسې انتقال کړي. د موبایل پیسو د خدمتونو له لارې که خلک په دوامداره توګه لږې پیسې په موبایل بټوه کې وساتي، نو د وخت په تېرېدو سره د بېړني حالت لپاره د پیسو زیرمه جوړولای شي، ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې حتی که رسمي بانکي حساب هم ونه لري، سپما یې خوندي او د اړتیا په صورت کې د لاسرسي وړ ده.

## له ځان سره د سپما په موخه پیسې ساتل

که خلک بانکونو یا د موبایل د پیسو خدمتونو ته لاسرسی ونه لري، یوه لاره دا ده چې د سپما په موخه د خپلو عوایدو یوه برخه نغدې پیسې په کور کې وساتي. دا کار د آسانه لاسرسي آسانتیا برابروي، خو په ورته وخت کې د پام وړ خطرونه هم لري.د بېلګې په توګه هغه پیسې چې په کور کې ساتل کېږي د غلا، اورلګیدنې، یا طبیعي پېښو لکه سېلابونو له امله زیانمنېدای شي، چې په نتیجه کې سپما په ناخاپي ډول او بې له کومې خوندي وسیلې څخه له منځه تللی شي .که څه هم په کور کې د نغدو پیسو ساتل د لنډ مهال لپاره حل لاره کېدای شي، خو د رسمي مالي سیستمونو لکه بانکونو او د موبایل پیسو د خدمتونو وړاندې کوونکو په څېر امنیت او اعتبار نه لري، نو د سپما انضباط او د پیسو خوندي ساتلو ته جدي پاملرنه اړینه ده.

## د سپما کمیټه یا قسط اچول

د سپما لپاره ځینې خلک د ځايي کمیټو یا د باور وړ وګړو یوه ډله ټاکي او هر غړی په میاشتنۍ یا بله بڼه یوه ټاکلې اندازه پیسې ورکوي چې ټولې پیسې بیا د ډلې یوه غړي ته سپارل کېږي. دې ته په عامه ژبه قسط اچول وایي. د بېلګې په توګه، ۱۲ کسان سره یو ځای کېږي او هره میاشت د هر غړي لخوا ۵۰۰۰ افغانۍ راټولېږي چې ټولې ٦۰ زره افغانۍ کېږي. دا ٦۰ زره افغانۍ د پچه اچونې له لارې د یوه غړي په برخه رسېږي. دا پروسه هره میاشت تکرارېږي تر څو هر غړی په یو وار ټولې پیسې ترلاسه کړي. د دې ګټه دا ده چې غړي یې په یو وار د پیسو ډېره کچه ترلاسه کوي چې کولای شي د خپل اړتیا وړ توکي پرې واخلي، ناروغۍ لپاره یې وکاروي او یا پرې یوه وړه سوداګري پیل کړي او یا یې سپما کړي. دا هم د سپما ډېره ښه لار ده ځکه چې د ډلې هر غړی مکلف وي ترڅو هره میاشت د خپلو عوایدو څخه ۵ زره افغانۍ بېلې او کمیټې ته یې تسلیم کړي. دا پروسه د سپما عادت پیاوړی کوي، او د بېړني حالت پر مهال د ملاتړ سرچینه برابروي. خو باید ځینې احتیاطي ګامونه په پام کې ونیول شي او یوازې باید له هغو وګړو سره په دې پروسه کې ګډون وشي چې د باور وړ وي.

## ورزش او مشورې

د بودجې او سپما بېلابېلو لارو چارو ترڅنګ باید انسان د مالي اندېښنو او ستونزمن حالت سره د مبارزې لپاره نورې لارې چارې هم پلې کړي. د مالي اندېښنو د منفي اغېزو د کمولو لپاره ورزش او منظم حرکت د بدن د انرژۍ توازن ساتي، د وینې جریان ښه کوي، او د فشار هورمونونه راکموي. همداراز، د بدن اوبه ساتل د فزیکي مقاومت لپاره اړین دي، ځکه چې د اوبو کموالی د سټرېا او فشار کچه لوړوي. ذهني آرامتیا لکه مراقبت، عبادات، ژوره ساه اخیستل، یا د څو دقیقو سکوت تمرین د ذهن د آرامتیا لپاره مهم ګڼل کېږي او د فشار پر وړاندې د مقاومت ځواک پیاوړی کوي. سربېره پر دې، د مالي اندېښنو په اړه له خپلو باور وړ ملګرو یا د

کورنۍ غړو سره خبرې کول د فشار د کمولو یوه مهمه لاره ده. د اندېښنو شریکول نه یوازې د یوازیتوب احساس کموي، بلکې عملي مشورې او عاطفي ملاتړ هم له ځانه سره لري، چې د مالي ستونزو پر وړاندې د انسان د مقاومت کچه لوړه ساتي.

**بانکونو ته مراجعه وکړئ**

اوسمهال بانکونه نه یوازې دا چې ستاسو د پیسو ساتلو لپاره خوندي ځایونه دي، بلکې ورځ په ورځ د پېرېدونکو د یو باور وړ ملګري په توګه خپل ځان ثابتوي او د خپلو پېرېدونکو د هوساینې په برخه کې نه سترې کېدونکې هڅې کوي. په داسې نړۍ کې چې مالي اندیښنې او اقتصادي فشار د زړه ناروغۍ، خفګان او د ژوند د کیفیت له خرابېدو سره مستقیمه اړیکه لري، بانکونه ځانګړی مقام او مسؤلیت لري چې د خپلو پیریدونکو د ټولیزې روغتیا ملاتړ وکړي. د پیسو او هوساینې تر منځ د اړیکې په منلو سره د هېواد بانکونه او مالي بنسټونه د مالي ثبات او له مالي اندېښنو سره د مقاومت په برخو کې د یو باوري ملګري په توګه خپل رول په ښه ډول لوبوي او د خپلو پېرېدونکو لپاره د مالي فشار د کمولو او هوساینې د لوړولو لپاره عملي ګامونه اخلي. د بېلګې په توګه، بانکونه د **مالي سواد د ترویج پروګرامونه** لکه روزنیز ورکشاپونه، آنلاین سرچینې او شخصي- مشورې وړاندې کوي چې له لارې یې خلک کولای شي د بودجې جوړولو، سپما کولو او په سمه توګه د پورونو مدیریت په اړه زده کړو او مهمو معلوماتو ته لاسرسی ولري. سربېره پر دې، بانکونه د **اتومات سپما پروګرامونه** او د تمویلونو خدمتونه وړاندې کوي چې د پېرېدونکو لپاره مالي پلان جوړونه آسانه کوي. همداراز، د بانکونو لخوا جوړ شوي آسانه اپلیکیشنونه هم له تاسې سره مرسته کوي چې په دوامداره توګه خپل عواید او لګښتونه وڅارئ او د سپما لپاره منظم ګامونه واخلئ. همدا ډول، اوسمهال د هېواد بانکونه او د وړو تمویلونو مؤسسې هېوادوالو ته د هغوی له اړتیاوو سره سم اسلامي تمویلونه وړاندې کوي چې په بېلابېلو برخو او وضعیتونو کې کولای شي ستاسو ملاتړ وکړي. له همدې امله، که غواړئ چې خپل مالي راتلونکی مو خوندي، هوساینه مو تأمین او د مالي فشار او اندېښنو پر وړاندې مو مقاومت او ثبات زیات شي، نو همدا نن د هېواد بانکونو ته مراجعه وکړئ او له خدمتونو څخه یې برخمن شئ.

**پایله**

مالي اندېښنې د انسان پر ذهن، بدن او ټولنیز ژوند ژورې اغېزې لري، چې د زړه ناروغۍ، ژور خفګان، او د ژوند د کیفیت د خرابېدو لامل کېږي. د دې ستونزو د کمولو لپاره د مالي سواد لوړول، د بودجې جوړول، او د سپما منظم عادت ستاسو د ذهنـي آرامۍ او مالي ثبات په برخه کې بنسټیز ګامونه ګڼل کېږي. سربېره پر دې، ورزش، ذهني آرامتیا، او له نورو سره د اندېښنو شریکول د فشار د کمولو عملي لارې دي. همداراز، بانکونه او مالي بنسټونه د خپلو پېرېدونکو د هوساینې په برخه کې مهم رول لوبوي. د بانکونو لخوا د سپما حسابونه، اسلامي تمویلونه، او د مالي سواد د ترویج پروګرامونه کولای شي چې ستاسو د مالي اندېښنو او اقتصادي فشار د کمولو او د خوندي مالي راتلونکي په برخه کې له تاسې سره مرسته وکړي. د مالي هوساینې ملاتړ یوازې د افرادو شخصي اړتیا نه ده، بلکې د ټولنې او اقتصاد د ثبات لپاره حیاتي ارزښت لري.

**سید خالد خالقیار**

**د افغانستان بانک د خپرونو ارشد آفیسر**


اخذلیکونه:

Reinhart, C. M. (2021). *From health crisis to financial distress.* World Bank Policy Research Working Paper No. 9616. Washington, DC: World Bank.

Ahir, H., Dell'Ariccia, G., Furceri, D., Papageorgiou, C., & Qi, H. (2023). *Financial stress and economic activity: Evidence from a new worldwide index* (IMF Working Paper No. 2023/217). Washington, DC: International Monetary Fund.

Reinhart, C. M. (2022). From health crisis to financial distress. *IMF Economic Review, 70*(1), 1–25. https://doi.org/10.1057/s41308-021-00139-0

McKee, M., Stuckler, D., & Zeegers, M. P. (2021). Financial stress and mental health: A systematic review. *Journal of Affective Disorders, 290*, 1–11. https://doi.org/10.1016/j.jad.2021.04.001



# تمویلات مالی اسلامی؛ پیوند اخلاق، سرمایه و توسعه اقتصادی

تمویلات مالی اسلامی در دهه‌های اخیر به یکی از مهم‌ترین موضوعات در عرصه اقتصاد و نظام‌های مالی جهان تبدیل شده است. در شرایطی که اقتصاد جهانی با چالش‌هایی چون بحران‌های مالی، افزایش بدهی‌ها و فاصله گرفتن بخش مالی از اقتصاد واقعی روبه‌رو بوده است، بسیاری از اقتصاددانان و سیاست‌گذاران به دنبال الگوهای مالی پایدارتر و مبتنی بر اصول اخلاقی هستند. در این میان، نظام مالی اسلامی به عنوان یک چارچوب مبتنی بر عدالت اقتصادی، شفافیت و مشارکت در سود و زیان توجه گسترده‌ای را به خود جلب کرده است. این نظام مالی که ریشه در اصول شریعت اسلامی دارد، تلاش می‌کند فعالیت‌های مالی را به اقتصاد واقعی پیوند دهد و از شکل‌گیری معاملات پرریسک و غیرشفاف جلوگیری نماید.

تمویلات مالی اسلامی مجموعه‌ای از ابزارها و فعالیت‌های مالی است که مطابق با اصول و ارزش‌های اسلامی طراحی شده‌اند. در این نظام، دریافت و پرداخت بهره یا ربا ممنوع است و تأمین مالی باید بر پایه مشارکت، تجارت واقعی و دارایی‌های ملموس صورت گیرد. از این رو، رابطه میان سرمایه‌گذار و استفاده‌کننده از سرمایه بیشتر بر اساس شراکت و همکاری شکل می‌گیرد تا رابطه‌ای صرفاً مبتنی بر بدهی. چنین رویکردی باعث می‌شود که ریسک و سود میان طرفین معامله به شکل عادلانه‌تری توزیع شود و سرمایه‌ها به سمت فعالیت‌های واقعی اقتصادی مانند تولید، تجارت و خدمات هدایت گردد.

یکی از ویژگی‌های مهم تمویلات مالی اسلامی تأکید بر شفافیت و جلوگیری از معاملات نامعلوم و پرریسک است. در این چارچوب، معاملات باید مشخص، قابل درک و مبتنی بر دارایی واقعی باشند. به همین دلیل ابزارهایی مانند مرابحه، مشارکت، مضاربه، اجاره و صکوک به عنوان مهم‌ترین روش‌های تأمین مالی اسلامی شناخته می‌شوند. این ابزارها امکان می‌دهند که سرمایه‌ها در پروژه‌های اقتصادی و زیربنایی به کار گرفته شوند و در عین حال اصول شریعت اسلامی نیز رعایت گردد.

رشد صنعت مالی اسلامی در جهان طی چند دهه گذشته بسیار قابل توجه بوده است. بر اساس گزارش‌های نهادهای بین المللی، ارزش دارایی‌های این صنعت در سال‌های اخیر به حدود شش تریلیون دالر رسیده و انتظار می‌رود در سال‌های آینده نیز با سرعت بیشتری افزایش یابد. این صنعت اکنون در بیش از هشتاد کشور جهان حضور دارد و نه تنها در کشورهای اسلامی، بلکه در بسیاری از اقتصادهای بزرگ جهان

نیز مورد توجه قرار گرفته است. کشورهایی مانند مالیزیا، عربستان سعودی، امارات متحده عربی، اندونیزیا و قطر از جمله پیشگامان توسعه مالی اسلامی محسوب می‌شوند و توانسته‌اند این نظام مالی را به یکی از بخش‌های مهم اقتصاد خود تبدیل کنند.

یکی از دلایل رشد سریع تمویلات مالی اسلامی، توانایی آن در پیوند دادن سرمایه با اقتصاد واقعی است. در بسیاری از بحران‌های مالی جهانی مشاهده شده است که فاصله گرفتن فعالیت‌های مالی از تولید و خدمات واقعی می‌تواند به ایجاد حباب‌های مالی و بی‌ثباتی اقتصادی منجر شود. در مقابل، تمویلات مالی اسلامی با تأکید بر وجود دارایی واقعی در معاملات، می‌تواند به کاهش چنین خطراتی کمک کند و ثبات بیشتری در نظام مالی ایجاد نماید. همین ویژگی سبب شده است که حتی برخی اقتصاددانان در کشورهای غیر اسلامی نیز به ظرفیت‌های این نظام مالی توجه نشان دهند.

در این میان، سکتور مالی و بانکی نقش محوری در گسترش و توسعه تمویلات مالی اسلامی دارند. بانک‌ها به عنوان مهم ترین واسطه های مالی می‌توانند از طریق طراحی محصولات مبتنی بر شریعت، منابع مالی جامعه را به سمت فعالیت های تولیدی و اقتصادی هدایت کنند. بانکداری اسلامی با ارائه خدماتی که با ارزش های دینی و فرهنگی جوامع اسلامی سازگار است، می‌تواند اعتماد عمومی را افزایش دهد و زمینه مشارکت گسترده‌تر مردم در نظام مالی را فراهم سازد. این امر به ویژه در کشورهایی که بخش قابل توجهی از مردم تمایل دارند معاملات مالی خود را بر اساس اصول اسلامی انجام دهند، اهمیت بیشتری پیدا می‌کند.

علاوه بر این، بانک‌های اسلامی نقش مهمی در تأمین مالی پروژه‌های بزرگ اقتصادی و زیربنایی دارند. در بسیاری از کشورها، پروژه‌های مربوط به انرژی، حمل و نقل و توسعه شهری از طریق ابزارهای مالی اسلامی تأمین مالی شده‌اند. بازار صکوک که به عنوان یکی از مهم‌ترین ابزارهای تأمین مالی اسلامی شناخته می‌شود، توانسته است منابع مالی گسترده‌ای را برای پروژه‌های توسعه‌ای فراهم کند و سرمایه گذاران داخلی و بین‌المللی را به مشارکت در این پروژه‌ها جذب نماید. تجربه کشورهایی مانند مالیزیا و امارات متحده عربی نشان می‌دهد که توسعه بازارهای مالی اسلامی می‌تواند نقش مهمی در رشد اقتصادی و توسعه زیرساخت‌ها داشته باشد.

در کنار نقش بانک‌ها، بانک‌های مرکزی و نهادهای نظارتی نیز در توسعه تمویلات مالی اسلامی اهمیت ویژه ای دارند. ایجاد چارچوب های قانونی و نظارتی مناسب، تدوین استانداردهای مالی اسلامی و نظارت بر عملکرد بانک ها از جمله اقداماتی است که می‌تواند زمینه رشد سالم و پایدار این صنعت را فراهم کند. بسیاری از بانک‌های مرکزی در کشورهای اسلامی با ایجاد واحدهای تخصصی بانکداری اسلامی و همکاری با نهادهای بین المللی تلاش کرده اند شرایط لازم برای توسعه این نظام مالی را فراهم نمایند.

با توجه به روندهای موجود در اقتصاد جهانی، به نظر می رسد که تمویلات مالی اسلامی در سال‌های آینده نقش پررنگ‌تری در نظام مالی جهان ایفا خواهد کرد. ترکیب اصول اخلاقی، شفافیت مالی و پیوند با اقتصاد واقعی باعث شده است که این نظام مالی به عنوان یک الگوی قابل توجه برای توسعه پایدار اقتصادی مطرح شود. برای کشورهای اسلامی نیز گسترش این نظام می تواند فرصتی مهم برای تقویت سکتور بانکی، جذب سرمایه‌گذاری و ایجاد نظام مالی عادلانه‌تر فراهم سازد.

به طور کلی، تمویلات مالی اسلامی نشان می دهد که می توان میان ارزش‌های اخلاقی و کارایی اقتصادی پیوندی مؤثر ایجاد کرد. این نظام مالی نه تنها با اصول دینی سازگار است، بلکه می تواند به توسعه اقتصادی، ثبات مالی و افزایش اعتماد عمومی در نظام بانکی نیز کمک کند. از همین رو، توجه به توسعه و تقویت این بخش در بسیاری از کشورها به عنوان یکی از راهبردهای مهم برای آینده اقتصاد در نظر گرفته می‌شود.

**نویسنده: محمد کاظم سروری**

منابع:

1. Islamic Finance Development Report, London Stock Exchange Group, 2025.
2. Islamic Financial Services Board (IFSB) Reports on Global Islamic Finance Industry.
3. International Monetary Fund Reports on Islamic Banking and Financial Stability.
4. World Bank Publications on Islamic Finance and Economic Development.
5. Refinitiv Islamic Finance Development Indicator Reports.



# د مالي سکتور بر یښنایي کېدل او د افغانستان روښانه راتلونکی

نوښت او د نوي ټکنالوژۍ چټک پرمختګ د نړۍ هېوادونه دې ته اړ کړي چې د برېښنايي کېدو پر لور په ګډه او په همغږې توګه حرکت وکړي. ټکنالوژيکي بدلونونو بېلابېلو هېوادونو ته د پام وړ اقتصادي، ټولنيزو او د اداري پرمختګونو زمينه برابره کړې ده. هغه پرمختګونه چې نن سبا په نړيواله کچه ليدل کېږي، بې له شکه د ټکنالوژۍ د ودې او د برېښنايي خدمتونو د پراخې کارونې پايله ده. په ځانګړې ډول، د مالي سکتور برېښنايي کېدل او د بانکوالۍ عصري کېدل د معاصر اقتصاد له مهمو بنسټونو څخه شمېرل کېږي.

نړۍ د ټکنالوژۍ درې ستر انقلابونه تجربه کړي او اوس د څلورم صنعتي انقلاب پر لور روانه ده. افغانستان په تېرو څو لسيزو کې د اوږدمهالو داخلي ستونزو او بې ثباتيو له امله ونه توانېد چې د دغو ټکنالوژيکو بدلونونو له فرصتونو څخه په مؤثره توګه ګټه پورته کړي چې په پايله کې يې زموږ ټولنه د دغو ټکنالوژيو د اغېزناکې کارونې له مهارت او پوهاوي څخه لرې پاتې شوه.

سره له دې هم افغانستان د ټکنالوژيکي سفر څخه بې برخه پاتې نشو او نوې ټکنالوژۍ د افغانستان بازارونو ته لاره وموندله خو وارداتي ټکنالوژيو ډېری وخت مصرفي بڼه درلوده، چې هېواد يې د توليد پر ځای د مصرف په انډول کې ساتلی دی. خو بيا هم اوسنی وضعيت افغانستان ته يو نوی فرصت برابروي ترڅو د څلورم ټکنالوژيکي انقلاب په بهير کې لږ تر لږه بنسټيز او ګټور ګامونه پورته کړي او ځان د نوي نړۍ له پرمختګونو سره همغږی کړي.

## د مالي سکتور برېښنايي کېدل؛ اړتيا او فرصتونه

ټکنالوژي د انساني ټولنې د پرمختګ بنسټيز عامل ګڼل کېږي او د مالي معاملاتو برېښنايي کول د اقتصادي روڼتيا، چټکتيا، خونديتوب او آسانتيا تضمين کوي. په افغانستان کې د مالي خدمتونو د برېښنايي کولو په برخه کې د افغانستان د اداينو سيستم لوی آمريت د هېواد د ملي سويچ په توګه مهم رول لوبوي. ياد آمريت د لاندې برخو په پراختيا کې عملي ګامونه پورته کړي دي:

- د پرچون بانکوالۍ برېښنايي کول
- د موبايل له لارې د بانکوالۍ خدمتونو وړاندې کول
- د بانکونو ترمنځ د واحد اتصال رامنځته کول
- د فزيکي پيسو پر ځای د برېښنايي پيسو دودول
- د صرافۍ خپلکاره ماشينونو (ای ټي ايم) او پاس ماشينونو د خدمتونو پراختيا
- اف پی ملي کارت ته وده ورکول
- د لنډ پيغام (ايس ايم ايس) او يو ايس ايس ډي کوډ خدمتونو وړاندې کول

د اف پي ملي کارت له لارې اوس وګړي کولای شي په آسانه توګه پېرېدنه وکړي، دولتي تعرفې او بلونه ادا کړي، د برېښنا بل تصفيه کړي، پيسې ولېږي او ترلاسه يې کړي، د موبايل کريډيټ واخلي او ګڼ نور خدمتونه وکاروي. دې ټولو خدمتونو د مالي راکړې ورکړې په برخه کې د پام وړ بدلون او آسانتيا رامنځته کړې ده.

### د نغدو پيسو پرته ټولنې په لور ګام

د ټکنالوژۍ پر لور د حرکت په بهير کې د عملي او اغېزناک ګام اخيستلو لپاره اړينه ده چې د برېښنايي پيسو کارول په خپل ورځني ژوند کې دود کړو. د اف پي ملي کارت ترلاسه کول او د ورځنيو مالي معاملو لپاره يې کارول، نه يوازې د وګړو په ژوند کې آسانتياوې رامنځته کوي، بلکې د هېواد د بانکوالۍ نظام پياوړتيا ته هم لاره هواروي.

د نغدو پيسو پرته ټولنه او د برېښنايي پيسو کارونه هغه موخې دي چې د مالي شفافيت، د اداري فساد د کموالي، د وخت سپما او اقتصادي ودې سبب ګرځي. د برېښنايي پيسو وده د هرې ټولنې لپاره ارزښتناکه ده، ځکه چې د انسان د ورځني ژوند دوه مهم اړخونه يعنې مالي راکړه ورکړه او اداري چارې له همدې سيستم سره تړاو لري.

### پايله

په ټوله کې، د پرمختللي او هوسا هېواد هيله لرل پرته له ټکنالوژۍ ممکنه نه ده. افغانستان کولای شي د مالي خدمتونو د برېښنايي کولو له لارې د معاصرې نړۍ له بهير سره همغږی شي او د اقتصادي ودې او روڼتيا پر لور ګام واخلي. د افغانستان د اداينو سيستم له فعاليتونو سره په همغږۍ، د برېښنايي پيسو دودول او د عصري بانکوالۍ پراختيا کولای شي چې هېواد د يو باثباته او پرمختللي راتلونکي او د نغدو پيسو پرته ټولنې پر لور بوځي.

**ليکوال: ذبيح الله سمسور، د افغانستان د اداينو سيستم د پروژو د امکان سنجونې او عامه پوهاوي لوی آفيسر**

**اخذليکونه:**

1. Afghanistan Payments System. (2024). *Home: National Switch and AfPay card services*. Retrieved March 16, 2026, from https://aps.af
2. Dinescu, V. M., Olomolehin, A., Pun, Y., & Samvelian, L. (2024). *Navigating the transition: Impacts, challenges and future prospects of a cashless society*. OxJournal. Retrieved from https://oxjournal.org
3. Hakimi, M., Aslamzai, S., Adhi, N., & Hakimi, S. (2024). *Digital transformation of Afghanistan banking: Exploring e-banking trends and impacts*. KEUNIS, 12(1), 90–99. https://doi.org/10.32497/keunis.v12i1.5286
4. Khaama Press. (2024, February 11). *Bridging the digital divide: Afghanistan's urgent quest for technological empowerment in the age of innovation*. Retrieved from https://khaama.com
5. The First MicroFinanceBank of Afghanistan. (2024). *AfPay debit card: Secure transactions across Afghanistan*. Retrieved March 16, 2026, from https://fmfb.com.af
6. United Nations Economic Commission for Europe (UNECE). (2020). *Science, technology, and innovation gap analysis of Afghanistan*. UNECE. Retrieved from https://unece.org
7. Wavetec. (2025, April 7). *The pros and cons of a cashless society: Advantages, disadvantages, and real-world impact*. Retrieved from https://wavetec.com



# د بریالیو تجربو شریکول او د ډیجیټلي اوبو د حل لارو پراخول

(دا مقاله د پیسو نړیوال صندوق له ویبپاڼې څخه ژباړل شوې ده.)

په ټوله نړۍ کې د اوبو د خدمتونو وړاندې کوونکې ادارې له زیات فشار سره مخ دي، تر څو خپله اغېزناکتیا لوړه کړي، احتمالي خطرونه له وړاندې تشخیص او د چټک پراخېدونکي ښاري نفوس لپاره خدمتونه وړاندې کړي. ډیجیټلي وسایل چې مصنوعي ځیرکتیا هم رانغاړي، دې وسایلو د اوبو او فاضله اوبو په پروسه کې د پام وړ اغېز ښودلی دی، خو ډېری شمېر ادارې نه پوهېږي چې د نوښت لومړني ګامونه له کومه ځایه پیل کړي.

له همدې امله، د نړیوال بانک ګروپ د کوریا د ودې د وجهي صندوق په څېر د شریکانو له لارې نړیوالې ښوونیزې همکارۍ پیاوړې کړي، تر څو هېوادونه د ډیجیټلي اوبو د نوښت له بریالیو او ازمویل شوو ادارو سره ونښلوي او په دې توګه په ټوله نړۍ کې د اوبو د ادارو ډیجیټلي بدلون پراخ کړي. له پورته ذکر شوو مخکښو ادارو څخه یو هم د سویلي کوریا د اوبو ملي اداره (K-water) ده چې د مصنوعي ځیرکتیا پر مټ د اوبو د عملیاتو/پروسس په برخه کې د نړیوالې بېلګې په توګه پېژندل کېږي.

**د نوښت د هڅونې لپاره د پوهې تبادله**

په دې وروستیو کې نړیوال بانک او نړیوال مالي شرکت د کینیا، عاج ساحل، البانیا، کمبودیا، سریلانکا او د سلیمان ټاپوګانو د اوبو د خدمتونو وړاندې کوونکې ادارې سره راټولې او همغږې کړې، تر څو د سویلي کوریا د اوبو د ملي ادارې د ډیجیټلي بدلون بهیر له نږدې وڅېړي. دې ادارو د مصنوعي ځیرکتیا پر بنسټ د اوبو د تصفیې فابریکې وکتلې، د سویلي کوریا د معلوماتو د مدیریت ملي جوړښت یې مطالعه او ولیده چې څنګه یوه روښانه ډیجیټلي ستراتیژي د بدلون بهیر چټکولی شي.

پریسیلا واموچي ګیتینجي، د مالېندي د اوبو او فاضله اوبو

شرکت مسئول (کینیا) وایي چې لومړنۍ مهمه موضوع دا ده چې لیډلوري باید روښانه او منظم شي، د معلوماتو اداري پیاوړې او ورته روښانه ستراتیژۍ او تګلارې جوړې شي او ټینګار کوي چې خپله به د بدلون د عامل په توګه دا معلومات د ټیم له نورو غړو سره شریک کړي. همدارنګه د سویلي کوریا د اوبو د ملي اداري تجربې ښیي چې د اوبو په سکتور کې بدلون هغه مهال شونی دی چې روښانه نقشه، بنسټیزه ژمنتیا او په دې برخه کې دوامداره زده‌کړې شتون ولري. له دې تجربې درې عملي درسونه ترلاسه کېږي:

1. له ستراتیژۍ او معلوماتو سره پیلول: د ټکنالوژۍ له پراختیا څخه مخکې باید یوه روښانه ډیجیټلي ستراتیژي جوړه او د معلوماتو مدیریت پیاوړی شي.
2. له " انسان څخه انسان " پر ځای انسان + مصنوعي ځیرکتیا ته بدلون ورکړئ: د مدیریت په بدلون او مهارتونو باندې پانګونه کول تر څو نوي ډیجیټلي سیستمونه په بریالیتوب سره تطبیق شي.
3. ازمایښت، اندازه او پراخه یې کړئ: له کوچنیو ګامونو څخه پیل وکړئ، له پانګې څخه د ترلاسه شویو عوایدو ارزونه وکړئ او هر هغه څه چې ګټور او اغېزمن وي، پراختیا ورکړئ، ځکه چې ډیجیټلي بدلون اوږد مهاله پروسه ده.

د نګانزا هرمن، د عاج ساحل د اوبو د وېش شرکت د استازي د وینا له مخې، تر ټولو جالب کار چې ما له دې ناستې زده کړ، د مصنوعي ځیرکتیا کارونه وه، لکه هوښیار عملیات، د پېرېدونکو اړیکي او د اوبو د ضایعاتو پېژندنه چې زموږ په چاپېریال کې یې تطبیق ډېر ګټور تمامېدای شي.

د سکرېوین اوکا تونګي، د سولومون د اوبو د عملیاتو مشر، د سولومون ټاپوګانو له قوله د سولومون د اوبو اداري لپاره مهم بل ګام دا دی چې ډاډ ترلاسه شي چې دا اداره یوه روښانه د ډیجیټلي بدلون ستراتیژي لري، تر څو د شرکت لیډلوري او موخې ترلاسه شي، داخلي همغږي پیاوړې شي، سرچینې په ښه ډول وکارول شي، لومړیتوبونه واضح شي او همغږي، اغېزناکتیا او ګټورتیا لا زیاته شي.

**په محلي ساحو کې د نړیوالو تجربو کارول**

د اوبو د خدمتونو څو ادارو چې په دې پروګرام کې یې ګډون کړی وو، لا د مخه تعقیبي کړنې پیل کړي دي. د بېلګې په توګه، د سولومون ټاپوګانو د اوبو اداري له عاید پرته اوبو (هغه اوبه چې پېرېدونکو ته له رسېدو مخکې د وړاندې کوونکي لخوا ضایع کېږي)، یو ځانګړی ورکشاپ جوړ کړ. په دې ورکشاپ کې په ډیجیټلي حل لارو خبرې وشوې، تر څو اړین شرطونه، مشخصې کړنې او اړینې پانګونې وپېژندل شي. همدارنګه، یو شمېر نورې اداري هڅه کوي چې ډیجیټلي برخې د نړیوال بانک له تمویل شوو پروژو سره یو ځای کړي او ځینو یې دا کار لا دمخه ترسره کړی هم دی، لکه د ګینې د اوبو او فاضله اوبو پروژه.

د دې لپاره چې د پوهې/تجربو د عملي کولو پروسه لا پیاوړې شي، نړیوال بانک له خپلو شریکانو سره همکار دی، تر څو د اوبو شرکتونو لپاره یو منظم او اوږدمهاله ډیجیټلي مشارکتي ماډل رامنځته کړي، چې دا ماډل به د ګډو روزنیزو لارو چارو پراخول او د اوبو په سکتور کې د ډیجیټلي بدلون او مصنوعي ځیرکتیا له مشرانو سره د همکارۍ د فرصتونو څېړل رانغاړي.

**د هېوادونو په مشرۍ د ډیجیټلي بدلونونو لپاره د حل لارو برابرول**

د دې مشارکت راتلونکی پړاو د کوریا د ماډل کاپي کول نه دی، بلکې موخه یې دا ده چې هېوادونه د ګډو تجربو او پوهې پر بنسټ خپل د بدلون بهیرونه پخپله رامنځته کړي. د انلاین

زده کړېزو وسایلو، سلا مشورو ملاتړ او عملي پلي کېدونکو پروګرامونو له لارې، د نړیوال بانک ګروپ د اوبو له ادارو سره خپلې همکارۍ ته دوام ورکوي تر څو د هغوی له اړتیاوو سره سمې ډیجیټلي حل لارې وازمويي او بریالۍ پایلې ترلاسه کړي.

